مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۳/۰۹/۲۸

# زما ښکلې لمسۍ مُنانۍ

نور یي « آیة » بولي زه یي بولم «مُنانۍ»
وي به دري کلنه ماته ښکاري میاشتنۍ
ښکلې لکه ښاخ د شګوفې پر مخکه ګرځي
غيرۍ ته مي راسي مینه مینه پخوانۍ
مینه مو زړه ده پیوند سوې له ازله
نه خو سل کلنه ده او نه زرکلنۍ
زما له مخې دوې مچکې واخلې بیرته ځغلي
ځي لکه هوسۍ وي توربڅلې سارانۍ
څه خو راته وايي ګړوي چي نیمه ژبه
خرنګه به پوه سم په خواله ددې جینۍ
نن که یي ماشومه سبا پیغله ښایسته یي
دا دوران دي مور هم دې تېر کړی لېونۍ
زما چي ژوند په یاد دی د شپېو غوندې تیرېږي
ته به هم بچو ته کیسي وکړې د ځوانۍ
خدای دي په حیا کي را زړه که پر ما ګراني
مینه د انسان در پکښې غواړم اورنۍ
مینه د رنګین بیرغ دي غواړمه په زړه کي
زما پر کهاله لویه سي ملاله مېړنۍ
دا نظم مي وساته یو وخت به در یادیږي
ستا او د ابا کیسه د میني، کورنۍ .

د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر څلېرویشتمه، ویرجینیا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ